مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب الله زغم

۲۰۲۳/۱۰/۲۷

ګناهګار تاریخ

که په ښوه کي يو ځوک خپله ناوي په دي تور شړي چي باکره نه وه او بيا يي وړه خور د دي پرځای بيايي، خلک پيغورونه کتاروي چې «واه واه! پنځه زره کلن تاريخ لرو او داسي کارنامي کوو.» که په جلال‌آباد کي يو رواني ناروغ له خپل تي‌خوره زوی سر پری کوي، بيا همدا ناري پورته کيږي. که په تخار کي ځوک پر ماشومي جنسي تېری کوي يا په بغلان کي يو وحشي د ښځي پوزه غوڅوي ... که هره بله ناروا د وطن په هر ګوټ کي کيږي، ځيني کسان همدا خبره کوي چې مور وحشي ملت يو، دا پنځه زره کلن تاريخ مو هېڅ دی او دغسي نوري خبری.

دا سمه ده چې تاريخ او تاريخي ويارونو ته هغه کسان/ هغه قومونه/ هغه ملتونه پناه وړي چې نن د ويار د زېږولو جوګه نه دي او زه پر تاريخ چنداني باور نه‌لرم. زه د دي پر ځای چې د چا پيغور ته غوږ ونيسم چې فرضاً پښتو ادبيات د مثنوي، شهنامه، منطق الطير، ... په شان غوره کلاسيک اثار نه‌لری، خپل کار کوم او خپلې کيسې (که ښې دي، که خراب) ليکم. خو له بلې خوا، په هره خبره خپل تېر تاريخ ننګول او هېڅ ګټل هم منطقي کار نه‌دی.

مور بايد د چا فردي ستونزې يا خطاګاني په قوم/ټولنې/ملت پوری ونه‌تړو او د پلار نيکه هډونه پری سپک نه کړو. کله چې مور د غرب د بريالو، پرمختګ او قانونمندو ټولنو کيسې اورو، او بيا د خپلو ځينو وګړو وحشي کارونو ته ګورو، ځان راته هېڅ، خوار، حقير او له تمدنه لری ښکاري خو واقعيت بل څه دی. په غربي ټولنو کي هم سره له دي چې له خواوشا يوې پېړۍ راهيسي د انسان سمې روزنې ته پوره پام کيږي، بيا هم داسي کارونه کيږي چې زمور د ځينو وګړو له وحشتونو څخه کم نه‌دي؛ خو مور ته هغه خبرونه اکثراً نه رسيږي. مور يوازې د غربي ټولنو د سيکي دغه ښکلی مخ وينو خو هغه بل ځيږ او ناوړه مخ يې معمولاً زمور له سترګو پټ پاتې کيږي.

په امريکا کي د ليکوالۍ په نړيوال پروګرام کي يوه جرمنۍ ليکواله راسره وه. دې راته کيسه وکړه چې: «پلار به مې هره ورځ نشه کوله، د مور به مې ورسره جنګ و او ده به هغه وهله. مور چې به مې کور کي نه وه، دی به له ما سره ځملاسته. زه يې ګواښلی وم چې که چا ته ووايم، مور به مې ووهي. زه هم له ډاره غلي ومه. آخر مجبوره شوم چې له کوره وتښتم او مکتب نيمګړی پرېږدم.» د دي ليکوالې په اکثرو داستانونو کي د همدغه وحشتونو صحنې انځور شوی وي. اوس نو تاسي فکر وکړئ، په جرمني غوندې پرمختللي ټولنه کي، چې مور ته ډېره انساني ښکاري، هم داسي ظلمونه کيږي. همدارنګه د امريکا په متحده ايالتونو کي د خورا پرمختللي ټکنالوجۍ، وسايل، مسلکي پوليس، معياري ښوونيز نظام ... او هر څه سره سره، داسي وحشتونه کيږي چې انسانيت وربانديې شرمېږي خو د دوی ټولنې دا يوازې د يوه فرد ستونزه بولي، نه د ټولنې او نه د خپل تاريخ.

وحشت او ګناه ته تمايل د انسان په خټه کي اغږل شوي دي او ټولنه که هر څومره متمدنه هم وي، بيا به هم ځيني وګړي په کي وحشي پاتې شي. دلته چې تېرو او روانو جګړو زمور د ارزښتونو نظام دړې وړې کړی دی، په ښوونه او روزنه کي د فرد ارواپي روزنې ته توجه نه‌کيږي، قانون په ټولو سيمو کي نه‌تطبيقيږي او خپل‌سری ته لاره هواره ده، نو طبيعي ده چې ځيني وحشتونه به په کي خامخا کيږي.

نو د محدودو ناوړو پېښو او د ځينو وحشي وګړو د عملونو په خاطر، ټوله ټولنه عيبجنه او ټول تاريخ بېکاره ګټل د انصاف خبره نه‌ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ